شريعت

SHARIAT WEEKLY

اوونيزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپريږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

ځلورم کال دوه اوبايمه گڼه. پرله پسې (۲٦۲) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د جمادي الثاني (۱۹) د۱۳۷۸هـ ش کال د تلې دمياشتي (۷) د۱۹۹۹ ميلادي کال د سپتمبر (۲۹)

...بنا بر دعوت اداره هوانوردي ملکي کشور ويتنام :

هيئت امارت اسلامي افغانستان در سي و پنجمين کنفرانس منطقوي آسيا پسفيك اشتراك نمود

هيأت بلند رتبه وزارت هوانوردي ملکي و توريزم بنا بر دعـوت اداره هوانوردي ملکي کشـور ويتنام در سي و پنجمين کنفرانس منطقوي آسـيا پسـفيك كـه در شـهر هانوي تدوير يافته بود اشتراك نمود.

آژانس اطلاعاتي باختـر خبـر ميـدهد : هيئت متذكره كه تحت رياست محترم ملا اختر محمد منصور سرپرست وزارت هوانوردي ملکي و توريزم بنابر دعوت اداره هوانوردي ملکي کشور ويتنام اخيراً عازم آنکشور گرديده بود در سي و پنجمين کنفرانس منطقوي آسـيا پسفيك كه در شهر هانوي مرکز آنکشور تدوير يافته بود اشتراك نموده و در جريان جلسات اين کنفـرانس در رابطه بکار و فـعـاليت وزارت هوانوردي ملکي و توريزم امـارت اسـلامي افـغانسـتان به اشتراك كننده گـان كـنفرانس معلومات همه جانبه ارائه نمود.

درين کنفرانس نماينده گـان سي و شش کشور و سه سازمان بين المللي جهان بشمول سازمان جهاني ايكاو و اتحاديه ترانسپورت بين المللي اياتا و اتحـاديه بين المللي ديپلوماتان اشتراك نموده بودند.

كار كنفرانس كه توسط معاون صدراعظم ويتنام آغاز گرديد داكتر اسد كوتابت رئيس كـل سازمان جهاني ايكا و شاروال هانوي، امر منطقوي آسـيا پسـفيك و رئيس عـمومي هوانوردي ملکي کشور ويتنام پيرامون موضوع كنفرانس صحبت نمودند.

درين كنفرانس روي مسـايل امنيتي ، مصؤنيت فضايي ، نصب و فعال نمودن وسايط تخنيكي به سيستم عصري و ساير خدمات هوايي الي سال دو هزار بحث و مذاكره

ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وكړئ: تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدې دی تقوا(پرهيزگاري) ته.

(سورة المائدة)

توجه !

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

د خوست په ولايت :

د سراج المجاهدين د مدرسي د دري ديرشو حافظانو په سر د فضيلت پگړي وتړل شوي

د خوست ولايت د سراج المجاهدين مدرسي په دري ديرشو تنو حافظانو پرون د يوي غونډي په ترڅ كي د فـضيلت پگړي وتړل شوي. د خوست له ولايت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي په غښي غونډه كي چي له همدي امله ددغي مدرسي په انگړ كي جوړه شوي وه له هغـه وروسته چي د قـران عظيم الشان څو مبارك ايتونه ولوستل شول څو تنو مخورو او عالمانو د قرآن عظيم الشان د حفظ تلاوت او د پگړي د تړ لو د فضيلت په باب وينا وي وكړي وروسته د خوست ولايت مرستيال محترم قاري عبدالبهاري عابد د موضوع په باب د خبرو په ترڅ كي د دغي مدرسي د مشكلاتو دله منځه وړلو په خاطر د هر ډول همكاري ژمنه وكړه . وروسته د المجاهدين مدرسي د دري ديرشو تنو حافظانو د فضيلت پگړي وتړل شوي .

سخنرانان در محفل تجليل سومين سالروز فتح تاريخي شهر كابل :

با فتح شهر كابل

حکومت قوي مرکزي توأم با صلح و امنيت در كشور تأسيس شد

بر سازمان ملل متحد و مجامع جهاني لازم است تا هر چه زود تر حقوق امارت اسلامي و مردم افغانستان را برسميت بشناسند

در زمان حاكميت ائتلافي رباني آبرو و عزت مردم مورد تهديد قرار گرفته و كشور در معرض تجزيه واقع شده بود

بمناسبت سومين سالروز فتح شهر كابل بدست نيرو هاي سر بكف تحريك اسلامي طلباي كرام ، ديروز اجتـماع وسيـعي در تالار كنفرانس هاي وزارت امور داخله تدوير يافت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد :

اين اجتماع وسيع كه به اشتراك محترم الحاج دوكتور قضاوت پوه مولوي نور محمد ، ثاقب ، قاضي القضات و رئيس ستره محكمه عده يي از وزراي كابينه ، هيأت رهبري ستره محكمه ، معينان ، رؤساء ، منسوبين دواير مختلف امارت ، اسلامي و صـد ها تن از طلبـاي كـرام و شهريان كابل تدوير يافته بود پس از تلاوت آياتي چند از كلام الله مجيد توسط محترم قاري نعيم احمد ، محترم مولوي رحيم الله ،زرمتي ، معين نشراتي وزارت اطلاعات و كلتور ، محترم مخدوم عبدالسلام سعادت رئيس عمومي كار و امور اجتماعي ، محترم مولوي خليل الله فيروزي رئيس اكـادمي علوم ، مـحـتـرم آيت الله تقدسي ، محـترم مـولوي جلال الدين شينواري معاون وزارت عدليه در امور حارنوالي بالنوبه در رابطه فتح فرخنده ششم ميزان سال سيزده هفتاد و پنج روز رهايي ابدي ملت و شهر كابل از چنگال ظلم و بي عدالتي صحبت نموده فرا رسيدن اين روز نيك را كه با تأسيس امارت اسلامي قيادت واحد ، وحدت ملي و جلوگيري از تجزيه كشور همراه ميباشد براي

ص ٤

د بلخ ولايت عالمانو او مخورو په ټول هيواد كي د اسـلامي امارت د هـدفونو او اسـلامي او شرعي پـروگرامونو د تحقق غوښتنه وكړه

د بلخ ولايت عـالمـانو او مخورو پرون له غرمي مخكي د روضي مباركي په جومات كي د يوي ستري غونډي د جوړولو په ترڅ كي په ټول هـيـواد كي د اسلامي امارت د هدفونو او د اسلامي او شرعي پروگرامونو د تحقق غوښتونكي شول. د بلخ له ولايت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راكړي غونډه د قران عظيم الشان د څو مباركو ايتونو په لوستلو سره پيل شوه

٤ مخ

به سلسله احياء و بازسازي تأسيسات عام المنفعه :

كار ساختمان مجدد سيلوي مركز آغاز ميگردد

با آغاز كار ساختمان سيلوي مركز زمينه كار براي دو هزار تن از هموطنان ما مساعد ميشود

كار ساختماني مجدد سيلوي مركز ديروز به اساس پروتوكول كه بين ساين وزارت تجارت و فوايد عامه عقد گرديد آغاز ميگردد. آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد طبق اين پروتوكول تمام بخش هاي

ص ٤

نظاميان اندونيزيا بايد جوابگوي قتل و كشتار مبارزين استقلال طلب در تيمور شرقي باشد

وزير دفاع ايالات متحده امريكا

ويليم كوهن وزير دفاع ايالات متحده امريكا ديروز از اندونيـزيا خـواست تا عـلـيا ت قهر آميز نقض حقوق بشر را در تيمور شرقي مورد بررسي قرار دهد . وزير دفـاع امـريكا قـبل از ديدار پيش بيني شده از اندونيزيا گفته است كه نظاميـان اندونيزيا بايد جوابگوي قتل و كشتار مبارزين استقلال طلب در تيمور شرقي باشند.

د كاسووا په يوه ستر ماركيت كي پرون يوه سخته چاودنه وشوه

د كاسووا په يوه ستر ماركيت كي پرون يوه سخته چاودنه وشوه .

د خبري سرچينو په وينا دغه چاودنه د كاسووا ايالت د مركز پرستينيا په ختيځه سيمه كي وشوه چي په دي سيمه كي صربيان واكمن دي. ددغي چاودني له امله پينځه ديرش تنه ټپيان شوي چي د هغـو د ځلورو تنو روغـتيـايي حالت خراب بلل شويدي.

په كاسـووا كي د نړيوال سـوله ساتونكي پوځ خبر ځاي ويل

ص ٤

سيراليون ته د نړيوالي سوله سـاتني پوځ د استولو سپارښتنه وشوه

د ملگرو ملتو د سازمان سـرمنشي كوفي عنان پرون سپارښتنه وكړه . كوفي عنان ويل دغـه پوځ به چي سيراليون ته د نړيوالي سولي ساتني د يو پوځ د استولو

٤ مخ

كلپ بكسنگ رياست عمومي استخبارات حايز مقام اول و برنده كپ قهرماني گرديد

در مسابقات حالب بكسـنگ كه ميان كلپ هاي مختلف شهر كابل راه اندازي شده بود كلپ بكسـنگ رياست عـمـومي استـخبـارات حايز مقام اول و برنده كلپ قهرماني گرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد: درين مسابقات بكسـنگ هجده تيم از كلپ هاي مختلف بكسـنگ شهر كابل اشتراك نموده بودند.

در مسابقه بكسـنگ كه ميان تيم هاي رياست عمومي استخبارات ، صحت عامه، شجاع و آريانا در ستديوم ورزشي شهر كابل راه اندازي گـرديده بود تيم كلپ بكسـنگ رياست عمومي استخبارات حايز مقام اول و برنده كپ قهرماني . تيم بكسـنگ صحت عـامه حايز مقام دوم و همچنان تيم هاي بكسـنگ آريانا و شجاع مشتركاً حايز مقام سوم گرديدند.

ص ٤

كوفي عنان سرمنشي ملل متحد اعلان كرده است :

كنفرانسي در باره قرار داد منع ازمايش هاي اتومي در سراسر جهان تشكيل خواهد شد

در مذاكرات در باره منع آزمايشات اتومي در جهان ، تحران جديدي بوجود آمده است .

كوفي عنان سرمنشي عمومي سازمان ملل متحد اعلان كرده است كه يك كنفرانس در باره قرار داد منع ازمايش هاي اتومي در سراسر جهان مجدداً تشكيل خواهد

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د ميزان شپږمه كه د هيواد د نجات او ځمكني تماميت وياړمنه ورځ

له كله نه چه د افغـان مجاهد ملت د جـهاد او مقاومت له بركتـه په افغانسـتان كي د پخواني شوروي اتحاد په اصطلاح نه ماتيدونكي سور پوځ مات ، كمونسـتي امپراطوري ړنگه ، د وارسا پكت تيت پرك او د برلين ديوال ټوټې ټوټې شو .

له هغه سره سم د همدي مجاهد ملت د خپلو ، كړولو او وركولو لپاره نړي وال استكبار په خپلو استكباري او شيطاني د سيسو لاس پوري كړ .

د ماتي خوړلو كمونسـتانو اخيرني گذار ، د شمال ناولي ائتلاف بي تقويه ، د متحد افغانسـتان د تجزيي هڅي بي پيل او په هيواد كي د سـيالو

۲ مخ

د ابن سينا ... روغتون مسوول محترم داكتر همدرد له شريعت اوونيزي سره په مركه كي :

د ابن سينا صدری روغتون پر نورو آسانتياو سربيره د التراسوند فعاله څانگه هم لري

زمونږ روغتون د بريښنا سيستم سل په سلو كي له منځه تللي وچي الحمد لله د اسلامي امارت لخوا بيرته فعاله شو

شريعت : قدرمنو لوسـتونكو : د هيواد د روغتونونو له حالت څخه سـاسي د معلوماتو د زياتوالي په خاطر مو دا ځل د ابن سـينا صدری روغـتون له رئيس محترم داكتر محمد عمل همدرد سره يوه مركه كړي چي لنديز يي نشرته سپارو .

محترم همدرد د ابن سينا صدری روغتون ځانگو او آسانتياو په هكله داسي وويل : د ابن سـينا صدری روغتون په كال ۱۳٤۲ كـي تأسـيس شوي او د وخت د خورا عصـري او نـو وسايلو او پرسونلو مجهز روغتون وو . فعلاً د ابن سـينا په صدری روغتون

٤ مخ

كاركنان هفته نامه شريعت سومين سالروز فتح پايتخت كشور و اقـامه نفاذ شريعت ، بحضور عاليقدر امير المؤمنين ، شوراي محترم سرپرست و ملت مسلمان و شهيد پرور افغانستان تبريك و تهنيت ميگويند

شریعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : مقبار «کاکړ»
د یوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پسته بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤-٣٨٥ / ٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

دلوتر مېنځ د جګړې په لمبو د نفاق او اختلاف تېل وروشيندل. د افغانستان او په هغه کې د اسلامي حاکميت دښمنانو له دغو ټولو کفري دسيسو څخه بواځنی هدف دا وو چې تر بوالو او په خاصه توګه افغانانو ته د اوښبي چې د هغوی د څوارلس کلن اسلامي جهاد نتيجه بواځې او بواځې د تنظيمونو قدرت ته رسيدل، د خپل منځي جګړو تازه کول، او د افغانانو په لاس د افغانستان ورانول او د افغانانو وژل دي او بس.

د افغانستان مظلوم مجاهد ملت پداسې حال کې چې له برغلګرو روسانو سره په څوارلس کلن مقاومت کې یې یو نیم مليون شهیدان په لکونو معيوبين او مهاجرين په دې خاطر په ځان منلي وو چې په هیواد کې یو سوچه شرعي نظام پلی افغانان او د ټولې اسلامي نړۍ مستضعفان يې تر سيوري لاندې اسوده شي دې ته نور هم اماده وو چې د خپلو ارمانجنو شهیدانو د نيمګړو ارمانونو د پوره کولو لپاره د خپل ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د جهاد، مبارزې او اسلامي مقاومت په مرچلونو کې پاتې شي.

هغه چې د مؤمنو او غيرتي افغانانو دې غوښتنې ته د اسلامي جهاد نه ستړې کيدونکي اتلانو د طالبانو اسلامي تحريک توريالیو غازيانو لبيک ووايه او پداسې حال کې چې د لوی خدای نصرت او د خپل مجاهد ملت بشپړ ملاتړ ورسره وو په ډیر کم وخت کې يې د هيواد په ډېرو سيمو کې د اسلامي جهاد د ارمانجنو شهيدانو ارمان پوره او شرعي نظام يې نافذ کړ، ان تردې چې د ۱۳۷۵ کال د ميزان د مياشتې په ٦ مه ورځ کيې د هيواد مرکز کابل تسخير په هغه کې یې سوچه شرعي حاکميت پلی او د ټولو دښمنانو شيطاني دسيسې ورشنډې کړې.

هو که د طالبانو اسلامي تحريک مجاهد پوځيان هم د هیواد پلازمينې کابل ته ورداخل شول خو د هغوی او قيادي شورا يا په اصطلاح د مؤقت اسلامي حکومت د څواکونو د داخليدو تر منځ ډير فرق وو.

د هغوی لومړنی اساسي کار د اسلامي حاکميت له اعلان نه وروسته دا وو چې د هيواد د يو نيم مليون شهيدانو اصلي عامل کمونيست نجيب يې د ټولو مسلمانانو په عام محضر کې د خپلو ناروا اعمالو په جزا ورساوه.

له هغه نه وروسته يې د خپلو سنجيده پلانونو له مخې د هيواد د تجزيې، يو لخطره يې له منځه يوړل او د هيواد په ګوټ ګوټ کې يې د پرديو له خوا د ايښودل شويو لومو په شلولو او د هيواد په بيا رغونه باندې پيل وکړ، د افغانستان د اسلامي امارت مسلمان پوځيان ددې لپاره په کابل ورننوتل چې د کابل له هرې کوڅې او ناحيې څخه یې د ائتلافي څواکونو سيطره ختمه او ځای يې د الهي کلمې حاکميت او شرعي عدالت ته وسپارل شي.

د اسلام دښمنانو په اسلامي هيواد کې د مسلمانانو دغه سوچه نظام زغملای او د هغه د ناکامولو لپاره يې خپلې ټولې هلې ځلې پکار واچولې خو د الهي دې ارشاد له مخې چې «وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَو...» د هغوی د ټولو توطيو په خلاف د اسلامي امارت ربيني ورځ په ورځ په نظامي، اقتصادي، عمراني، فرهنګي ... لحاظ قوي او ان شاء الله هغه وخت لرې نه دی چې ټول خوږيدلي افغانان به د اسلامي امارت تر شرعي سيوري لاندې د يوه هوسا، خپلواک او نيکمرغه ژوند خاوندان شي.

خو دلته بوه خبره د يادولو وړ ده او هغه دا چې نن ددې اسلامي حاکميت په خلاف د نړۍ ټول کفري طاقتونو يو لاس شوي، ټولې هغه توطيې چې د اسلامي جهاد د ناکامۍ لپاره يې طرحه کړې دلته يو ځل بيا په ډير قوت سره طرحه کوي خو ددې ټولو فتنو څخه د نجات بواځنۍ لاره دا ده چې ټول افغانان تر خپلو ټولو شخصي، تنظيمي، قومي، سمتي او لساني مصالحو او تعصباتو تير او د همدغه اسلامي حاکميت تر شرعي سيوري لاندې په ټولو الهي دستوراتو متمسکين، د هغه په رڼا کې خپلو ټولو انساني اشتباهاتو ته متوجه، او په خپلو ټولو کړو وړو کې الهي مراقبت په نظر کې ونيسي او بس.

إِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ... [illegible]

... څومره ښکلې ښاره وه

بريښنا ورانګه

په زرهاو کسان سپين ږيري، ځوانان، ماشومان او ښځې پرې را ټولې وې د هر چا له څيرې څخه د خوښۍ ننې نښانې څرګندېدې، هر يوه پر ته له دې چې ووايي د ډير سه وشو، همدا يې سزا چې څه يې کړلي و هغه يې وريبدل اسلام او وطن ته د خاين لپاره دا سزا هم لا کمه ده... هيڅوک يې هم له ننداري او برخليک څخه خوابدي نه و، دري کاله مخکې د ميزان د شپږمې نيټې د سترګو ليدلی حال دی هلته چې د اسلام او افغانستان د لوی نيا او د هيوادوالو د خلاصون د پر ميال يون ليکريانو په خدای مينو طالبانو د کمونستي پاتې شونو او د هغوی د ائتلافي مليشو پوځې او جګړه ايز ستګرونه يو په بل پسې تر پښو لاندې کړل او سهار وختي د کابل ښار د جوماتونو له آذانو سره يو ځای يې د کابل ښاريانو د خلاصون او سوکالۍ تکبيرونه اوچت او د لمر د زرينو وړانګو له راختو سره يو ځای يې د اسلامي واکمنۍ **ځلکونکي پلوشې د هيواد پر پلازمينې را خورې کړې.**

هو کې! کمونستانو او روسي سرو پوځونو او بيا وروسته د هغو ائتلافي مليشو په ټول هيواد کې، خاصتاً په کابل ښار کې زمونږ پر ميړنيو هيوادوالو ډېرې سختې شپې راوستلې وې، او ډير يې ځوروليو په سلهاو زره ځوانان، سپين ږيري او ماشومان، نارينه او ښځينه يې د اسلام او خپلواکۍ په ګناه په خپلو وينو لمبولي، په لسهاو زره يې ترينه تر تم کړي او يې شمير يې هم بې لاس، بې پښو او بې سترګو کړي و، ډېرې ميندې يې بورې، ډېرې خويندې يې ورارې، ډېرې ښځې يې کونډې، ډير ماشومان يې يتيمان او ډير پلرونه يې د اولاد د نيستي په سرو لمبو کې سوځولي و، دغه ورځ رښتيا هم چې ډيره بختوره ورځ وه او هلته د کابل ښار په آريانا څلور لارې کې څومره ښکلې ننداره وه يو خو د کابل ښاريان د مسعود او د هغه د ائتلاف د شريکانو د تويکمارانو له شر او ځورونې څخه خلاص شوي و بل يې د هغه ستر جانی، اسلام او هيواد ته خاين د کې جي بي د روزل شوي او د خاد د پخواني چارواکي (نجيب) جسد يې تر منځ ځړيده، هغه د اسلام د غازيانو په لاس په خپله سزا رسيدلی وو خو د خلکو زړونه لا همداسې ورته د ک و هيڅ زړه داسې په آسانه نه پرې سړيده هغه پوره څوارلس کاله دغه خوار اولس ځورولی او په شر کښولی وو نه بواځې چې په خپله او د خاد د وژنې ځانګې د بيسده او پردي پالو غړو په لاس يې دا وګړي وهلي، تکولي، بنديان کړي او د کور او کورنۍ له اړونداو څخه يې يې برخې کړي و، بلکه د روسي ښکيلاکګرو لپاره يې هم د خاد په مرکزي او سيمه ايزو ځانګو کې زمونږ د خلکو د ځورونې او وژنې ناکاوې جوړې کړې وې. د وطن پلورونکي کارمل تر ناکامۍ او ناهيلۍ وروسته همدغه نجيب روسانو ته تيږ وهلی وو چې افغانستان په د اسلام او خپلواکۍ له پلويانو تصفيه کړي او بيا يې روسانو ته وسپاري، هغه د خپل چوړې د برياليتوب لپاره ډير زيار وګاله او د روسي پوځيانو په ملتيا يې ډېرې ستړې حملې د هيواد په بيلا بيلو سيمو کې په لاره واچولې که څه هم افغان ميړنيو غازيانو هر ځل دوی ته سختې ماتې ورکړې خو بيا هم نجيب نه صبريده او خپلو روسي بادارانو ته د اخلاص د ثبوت په تکل کې وو په پای کې د افغان مجاهد ولس د بيساري جهاد او سرښندنې په نتيجه کې لمړی د هغه شوروي واکدار او سوسيالستي زبر ځواک ختم شو او ريسي کله چې د کمونيستي هيوادونو او روسانو له مرستو څخه يې برخې او نا اميده شو دې هم د تيښتې په تکل کې شو خو د خپلو مليشو په دام کې پريوت او پاتې شونو يې له مسعود سره د ائتلاف په نتيجه کې زمونږ د وياړمن ولس د جهاد پايله بدرنګه کړه او د جهاد د ارمانونو پوره کيدل يې وځنډول خو الحمدلله چې دا د غازيانو خاوره هيڅکله هم له شازلميو مجاهدينو او ميړنيو څخه نده بې برخه شوې، همدغه و چې مجاهد طالبان د ۱۳۷۵ کال د تلې په شپږمه وياړمن او برياليي د کابل ښار ته را دننه شول او په سر کې يې د افغان ځوريدلي ولس ستره هيله چې ملي خاين (نجيب ته) د خپلو ناروا کړو وړو او نيرنګ سزا وه، پوره کړه او هغه يې په عام د کړ کې په خپله سزا ورساوه، خلک به هر څه هر څه وايي خو افغان مجاهد ولس به د دغې وياړمنې ورځې خوشالۍ هيڅکله هم هيره نکړي، که څوک نجيب ته د جمهور رئيس خطاب کوي او هغه ته دغه سزا زياتې بولي، نو بايد پوه شي چې هغه د پرديو په غير کې را لوی يوه ناوکی وه، که څوک يې د محاکمې غوښتونکي و او عاجله سزا يې ورته نه خوښوله نو زمونږ دا په لکهاوو شهيدان نجيب په کومه محکمه کې محاکمه او بيا شهيدان کړل، او که څوک اوس لا لري چې هغه به پوهه درلوده، نو تر هغه سر ناپوه به څوک وي چې خپل دين او هيواد وپلوري او د پرديو د خوښۍ لپاره خپل هيوادوال له يوه سره تباه کړي!!!

د طالبانو اسلامي تحريك :

د افغانانو د خلاصون او سوکالۍ قافله

محمد سهيل

څوک چې پنځه کاله مخکې د طورخم نه تر کابله پورې له مختلفو پاټکو را تير شوي وي او د کابل ښار يې ليدلی وي تو لکه لمر داسې به ورته څرګنده وي چې د طالبانو اسلامي تحريک څنګه پخپلو قربانيو سره افغانان د وحشت ناروا او ظلم نه را وايستل او هيواد يې د امن په زانګو بدل کړ.

هغه وخت زمونږ ولس د يو څو متحرفو وسله والو قوماندانانو په لاس کې برغمل و چې د خپلو شخصي ګټو او هوس د ارضا نه پرته يې نه مدني قانون پيژاند او نه شرعي اصول. هغه مختلف مجاهدين او قوماندانان چې يوازې ددين د سرلوړې او د افغانانو د سوکاله او پتمن ژوند لپاره يې قربانۍ ورکړې وه اوس دغې وضعې هغوی ډير ځورول، اکثره دغه ډول کسان شهيدان شوي و او يا ګوښه وو او يا يې وسه و.

افغان مظلوم ولس نه پوهيده چې څوک به يې د دې او اوښکو له دې ګرداب نه راوباسي او څنګه به يې رواباسي! ملګرې ملتونه او نړيوالې ټولنې هم يې وسه او حيران و افغانانو څو ځلې ملګرو ملتونو ته سترګې ورواړولې لاکن هيڅ يې تر لاسه نکړل يو ځلې ملګرو ملتونو د کويټي په ښار کې افغاني تکنوکراتان راوبلل تر څو د افغانستان کشالې ته حل بيا مومي هغوی پيشنهاد وکړ چې دري کسيزه جوړه شي نظامي، مالي او سياسي. نظامي کميټه بايد د وسله والو کسانو نه په پيسو وسله واخلي نو بايد مالي کميټه د سياسي کميټې په مرسته مالي مرستې راټولې کړي او د نظامي کميټې په اختيار کې يې ورکړي چې وسله د وسله والو کسانو نه ويري. لاکن دا يوه خيالي طرحه وه د افغانستان د جامعې د مسلطو شرايطو سره يې عملي اړخ نه لګاوه هيڅ وسله وال تو يکې نه حاضريږي چې هغه وسله چې دده د قدرت، لوټ تيا غوښتنې، هوس پالنې او قدرت پالنې يوازنۍ وسيله ده د پيسو په مقابل کې وپلوري او ځان پخپله يې وسه او يې اختياره کړي.

په همدې حال کې هيواد د تجزيې په لور [illegible] د ګاونډيو او غير ګاونډيو هيوادونو د خپلو [illegible] پروګرامونو د عملي کولو لپاره د هيواد د ننه پاکلې ګروپونه خپل کړي او روزلي وو.

کابل ته د مجاهدينو د راتګ نه مخکې به پينور کې د لوی هزارستان نقشې ويستل شوې وې چې په هغه کې د هيواد ډير ولايتونه شامل کړي شوي و د لوی تاجکستان آوازې هم ګرمې وې چې زمونږ د هيواد زياتې سيمې د خپلې نه لاندې کړي.

په پاريس کې د پاکستان او افغانستان د اسماعيليه ولې مشرانو غونډه کړې وه چې حلا اسماعيليه حکومت په جوړ وي چې پدې کې به د افغانستان تا و پاکستان هغه سيمې شاملې دي چې هلته اوس اسماعيليان اوسيږي په باميانو کې د تلويزيون شبکې د ايران قونسل جنرال له خوا افتتاح شوه چې مستقيماً به د تهران نه خپريده، او ايراني کلتور او د ګټو د پراختيا او پرمختيا لپاره به يې خپروني کولې. ايران د هيواد شمالي ولايتونو ته هم لکه کشانونه ولېږل تر څو هلته يې د شورونځيو په ماشومانو وروښي او هدف دا وچې را تلونکي افغان نسل د ايراني کلتور په چوکاټ کې وروزي. ددې کار د ښه تطبيق لپاره به پام کې وه چې مزار شريف د قم په څير په مزعوم مقدس ښار بدل کړي او په ورو ورو غير شيعه خلک ورځنې وباسي.

هيواد د اقتصادي رکود سره مخامخ و تجارت په ټپه ولاړ و د هيواد فابريکې چې ملي سرمايه ده، يول ماشينونه يې په ګاونډيو هيوادونو کې د مليشو له خوا پلورل شوي و، الوتکې، ټانګونه، موټر قصداً برزه کيدل او بيا پلورل کيدل هر پاټکې پخپل ځانې کې باجاو څومره چې يې مزاج غوښتل له خلکو يې ټکس اخيست پدې وخت کې د طالبانو اسلامي تحريک د هيواد او په هيواد کې د ميشتو خلکو د نجات لپاره ميدان ته راودانګل. کتابونه يې ټپ کيښودل او د مشکرينو سره يې پنجه نرمه کړه. ملت په جبکې سره د طالبانو د اسلامي تحريک تود هر کلی وکړ او په لنډه موده کې يې د هيواد زياتې سيمې له مفسدينو نه خلاصې کړې هيواد کې يې امن راوست د خلکو عزت، سر او مال يې ورخوندي کړ د هيواد تجزيې مخه يې ونيوله، واحده اداره يې را مينځ ته کړه د شريعت په رڼا کې يې قضايي سيستم تشکيل کړ او د ملوک الطوايفي هغه اداري يې ختمې کړې چې هلته به د قوماندانانو مزاج قانون و د مليشو د سيمو د آزادولو وروسته د طالبانو اسلامي تحريک د بيا رغونې کار ته پام وکړ د يو چې د کسوالۍ او د رواني جګړې د ستونزو سره سره يې په تيرو کلونو کې د کسې ور کارونه کړي چې په لنډه ډول بيانيږي:

الف - صنايع او معادن :

کله چې د طالبانو د اسلامي تحريک مجاهدين د ۱۳۷۵ د ميزان په شپږمه نيټه کابل ته ننوتل، دغه سکلې ښار د جګړو له امله په کنډواله بدل شوی و د هيواد د فابريکو ماشينونه چور د بوالونه يې رنګ او د برق لاينونه يې هم نه وه پاته د اسلامي تحريک سملاسي هر څه له صفر نه پيل کړل. په لنډه موده کې يې د فابريکو برقي جريان بيرته فعال کړ هغه ماشينونه چې برزې يې لوټ شوي وې هغه يې بيرته ترميم کړل او د لوټ شويو ماشينونو يې تيون پسې ووتل چې ځيني يې بيرته تر لاسه کړي دي د همدې هڅو له امله تر اوسه اسلامي امارت په لس ګونو فابريکې بيرته فعالې کړيدي.

افغان نساجي بيا په کار پيل کړي او ددې شرکت لاندې ټولې فابريکې ترميم شويدي. د مزار شريف د کود فابريکه په اعظمي توان سره توليد کوي، د سمنټو فابريکه فعاله ده، د سپين زر شرکت بيرته د توليداتو صادرولو جوګه شوی دی د پل چرخي د مرمر او رخام فابريکه فعاله شوې، په مزار شريف کې د نفت او ګاز تصدی د هيواد په شمال کې خلکو ته د ګاز د لاينونو توزيع په پام کې لري.

د لوګر د عينک د مسو په کان باندې بيرته کار پيل شوی دی بايد ووايو چې د روسانو د يرغل په وخت کې ددې کان ټول وسايل لوټ شوي وو لاکن د اسلامي امارت په راتګ سره نوموړي وسايل بيرته تهيه او په دغه کان کار پيل شو.

د يونان د تيل او ګاز له کمپنۍ سره په افغانستان کې د ګاز او تيلو د پلټنې د پاره ترون لاسليک شوی او کار يې پيل کيدونکی دی، د جګدلک په کانونو کار روان دی. همدا راز په غزني کې نوي کانونه کشف شوي چې زياته وسپنه او نور معدني مواد لري.

کرهنه :

د افغانستان اسلامي امارت په هلمند، فراه، ننګرهار او لوګر کې د اوبو کانالونه ويباره پاک کاري کړي. ددې ويالو او کانالونو د پاکولو له امله په زرګونو جريبه ځمکه له اوبو لاندې راغلې همدا شان د کرهنې وزارت د بغمان، دارالامان او بني حصار فارمونه بيرته فعال کړي دي. هر کال په هيواد کې په سل ګونو ټنه بيلابيل تخمونه په ارزانه نرخ د هيواد کروندګرو ته ورکوي. نوموړي تخمونه د فني کسانو له خوا د کرهنې وزارت په فارمونو کې تجربه او بيا دهقانانو ته ورکول کيږي.

مواصلات :

د تيرې شل کلنې جګړې له امله د هيواد ټول مواصلاتي نظام له مينځه تللی دی د رباني انارشيست رژيم پدې هکله هيڅ کار نه دی کړی لکه څنګه چې يې په نورو برخو کې هم تيره په تيره ده دا ځلي اسلامي امارت د خپلو محدودو وسايلو په مرسته د کابل طورخم په لويه لار کار پيل کړی او هغه يې اواره کړې ده د پاکستان د حکومت سره يې د تار کولو د وارد ولو لپاره قرار داد کړی دی ددې ترون له مخې به څو سوه ټنه تارکول د افغانستان اسلامي امارت وارد وي.

همدا شان د کابل قندهار سړک هوار شوی او د کابل - قندهار سفر يې اوس يوې ورځې ته را لنډ کړی دی پداسې حال کې چې مخکې به دغه سفر څو ورځې دوام درلود. همدا راز د قندهار هرات په سړک کار شوی دی.

د اسلامي امارت په مقابل کې د نړۍ د هيوادونو مخالفت :

له غربي هيوادونو سره تر ټولو د مخه خپلې سياسي او اقتصادي ګټې مطرح دي د دوی د وسنې او ديمنې د همدې ګټو په اساس بنا ده د بشر حقوق، آزادي، ديموکراسي د يوه ډال په توګه استعمالوی.

په پيل کې دوی فکر کاوه چې اسلامي امارت به اړ کړي چې د غرب د خوشحالۍ او ګټو په خاطر ځنې اسلامي اصول پريږدي. دوی فکر کاوه چې د افغانستان غريب او بيوزله هيواد د دوی له مالي او سياسي مرستو نه پرته ژوند نشي کولی. خو کله چې پوه شول د اسلامي امارت مشرانو ته د سياسي مصلحتونو په نسبت اسلامي اصول خواږه او لوړ دي نو ددې څوان اسلامي حکومت په خلاف يې تبليغاتي کمپاين پيل کړ په داسې حال کې دوی ښه پوهيږي چې د اسلامي امارت د جوړيدو نه مخکې په افغانستان کې د ورځې لږ تر لږه دوه سوه کسان د وسله والو ډلو له خوا وژل کيدل، د اسلامي تحريک په راتګ سره د دغې ظالمانه وژنې مخنيوی وشو، د ښځو عفت، د خلکو سر او مال خوندي شو او هيواد د تجزيې او ملوک الطوايفي له خطر نه راووت. دغه حقايق د دوی په خصوصي رپوټونو کې ثبت دي. لاکن د غرب دغه دستور دی چې د بشر د حقوقو تر پردې لاندې د يوه هيواد حکومت هغه وخت تاييدوي چې د دوی سياسي، اقتصادي او نظامي غوښتنو ته غاړه کيږدي. که داسې ونکړي نو د ملګرو ملتونو او نورو بين المللي تنظيمونو له لارې پرې مسلسل فشار واردوي او که ممکن وي د عراق، کوسوو او څيچن په څير پرې د لاسه نظامي بريدونه کوي چې مثالونه يې مونږ پخپلو سترګو وليد.

په ملګرو ملتونو کې ناست کسان پوهيږي چې اسلامي امارت د رسميت پيژندنې ټول شرايط پوره کړي ځکه چې افغانستان يو خپلواک هيواد دی د چا سياسي غوښتنو ته غاړه نه ايږدي نو ځکه له ټولو شرايطو سره سره د زمونږ اسلامي امارت لا تر اوسه ملګرو ملتونو په رسميت نه دی پيژندلی.

د ملګرو ملتونو مامورين په خصوصي مجلسونو کې اعتراف کوي چې د افغانستان اسلامي امارت ټول قانوني شرايط پوره کړي، خو تر څو چې ځنې بين المللي نور موئنه ونه منې په رسميت نه پيژندل کيږي له بين المللي نور موئنو نه مطلب د څينو اسلامي اصولو پريښودل او د غرب سياسي غوښتنو منل دي لاکن دغه خبره د اسلامي امارت مشرانو او د افغانستان د ولس لپاره ګرانه ده ځکه چې د دغه مجاهد ولس له پخوا **راهيسې له خپل خالق (ج) سره تعهد کړی چې د خالق اصول به منې او د مخلوق اصول به پريږدي ولو که ددې نتيجه په رسميت نه پيژندل او اقتصادي تعذيرات وي.**

د کابل د ستری فتحی د دریمی کلیزي په اوږدو کی د اسلامی اردو د سربندنو او بریاوو بهیر

غالب

د ۱۴۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر له اتمی نه را په دېخوا یعنی د ۱۳۷۷ هـ ش کال د تلی د میاشتی له شپږمی نیټی نه راوروسته د افغانستان د اسلامی امارت د اسلامی اردو اتل طالبان او مجاهدین له خپلو مخالفینو سره د جګړی په تاوده ډګر کی له نویو فتوحاتو او نویو ازمایښتونو سره مخامخ وه هغه دا چی په بامیانو کی د فتوحاتو لمن ورځ په ورځ پراخېدله او ددغو فتوحاتو په لړ کی د ۱۴۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په نهمه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د تلی په ۷ مه د نورو سیمو په لړ کی د بامیانو د ورث ولسوالی د اسلامی اردو مجاهدینو فتحه کړه او وروسته جوخت د غزنی ولایت د هزاره جاتو ولسوالی هم د طالبانو لاسته ورغله او هم د وحدت ډلی یو

په داسی حال کی چی د اسلامی اردو اتل طالبان او مجاهدین د خپلو مخالفینو په سنګرونو یو په بل پسی تیغ په تیغه ورختل ایران په مزار شریف کی د خپلو ډیپلوماتانو !؟ د وژلو په بهانه او غم اخیستلو خپل پوځی سوقیات د افغانستان لویدیځ سرحد ته پیل کړل خو ددغو سوقیاتو په وړاندی د اسلامی اردو ځواکونه په ډېر متانت او هوښیاری د ایران د پوځونو د حملی او تعرض په وړاندی په لودیځ سرحد کی ځای په ځای شول او د ایران د پوځونو ټول نظامی تحرکات یی تر دقیق کنترول لاندی ونیول

شمیر قوماندانان د خپلو وسلو سره د اسلامی اردو ځواکونو ته تسلیم شول. په داسی حال کی چی د اسلامی اردو اتل طالبان او مجاهدین د خپلو مخالفینو په سنګرونو یو په بل پسی تیغ په تیغه ورختل ایران په مزار شریف کی د خپلو ډیپلوماتانو !! د وژلو په بهانه او غم اخیستلو خپل پوځی سوقیات د افغانستان لویدیځ سرحد ته پیل کړل خو ددغو سوقیاتو په وړاندی د اسلامی اردو ځواکونه په ډېر متانت او هوښیاری د ایران د پوځونو د حملی او تعرض په وړاندی په لودیځ سرحد کی ځای په ځای شول او د ایران د پوځونو ټول نظامی تحرکات یی تر دقیق کنترول لاندی ونیول او ایران په دغه وخت کی داسی تورونه د اسلامی اردو په ځواکونو ولګول چی ګنی طالبانو د ایران په سرحدی پوستو باندی ډزی کړی دی، خو دغه تورونه د اسلامی امارت ویاند مولوی وکیل احمد متوکل رد کړل او وی ویل چی په خپله ایران د طالبانو په پوستو باندی ډزی کړی دی او له دغه حالت سره جوخت د ۱۴۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په ۱۸ مه د ایران د پوستو د ډزو له امله دوه تنه طالبان شهیدان شول او نور پنځه تنه ټپیان شول او هم پنځه کلی وران شول. د اسلامی اردو ځواکونه په بامیانو، تخار، سالنګونو او تجراب کی د احمد شاه مسعود قواو سره په سخته جګړه اخته وو او د ۱۴۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په ۲۲ مه تجراب د اسلامی اردو د ځواکونو تر کنترول لاندی راغی او هم اسلامی اردو پنجشیر باندی له څلورو خواو څخه حمله پیل کړی وه. د ۱۴۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په ۲۶ مه د شپی له خوا د مسعود قواوو په تالقانو حمله وکړه.

د اسلامی اردو ځواکونو ته د مخالفینو د قوماندانانو په لړ کی د ۱۴۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په ۲۹ مه په شمالي کی د میر بچه کوټ په ولسوالی کی مخالف قوماندان مستری بابا د اسلامی اردو ځواکونو ته تسلیم شو او هم د صافی د غره په سیمه کی قوماندان حاجی عبدالسلام او قوماندان جان آغا د خپلو وسله والو کسانو سره د اسلامی اردو ځواکونو ته تسلیم شول د ۱۴۱۹ هـ ق کال د رجب المرجب په ۹ مه د اسلامی اردو د ځواکونو او مخالفینو تر منځ د افغان سوداګر سید جلال په منځګړیتوب موافقه وشوه چی یو د بل بندیان به خوشی کوی او په دغه جریان کی به اوربند ټینګ وی په دغه وخت کی ایران د افغانستان لویدیځ سرحد ته څېرمه په خپلو نظامی مانورو پیل وکړ او په لویدیځ سرحد کی ځای په ځای شویو قوتونو د ایران نظامی مانوری تر څارنی لاندی نیولی وی او هم په شمال کی د اسلامی اردو ځواکونو د تالقانو د ښار د بیا نیولو له پاره د تالقانو دری کیلو متری ته ځان ورساوه او په بامیانو کی د وحدت د یوی ډلی مشر استاد اکبری د خپلو ټولو قوماندانانو سره د اسلامی اردو ځواکونو سره یو ځای شو او هم د سمنګانو په ولایت کی لس تنه مخالف قوماندانان د خپلو ۴۰۰ تنو وسله والو سره د اسلامی اردو د ځواکونو سره یو ځای شول له سختو جګړو وروسته مخالفین د دشت ارچی، یورکی او د اشکمش په ولسوالیو کی له سختی ماتی سره مخامخ شول او یو شمیر مړی د جګړی په ډګر کی ترینه پاتی شول او په خنجانو کی هم مخالفین له ورته ماتی سره مامخ شول د اسلامی اردو د پر له پسی بریاوو له امله د مخالفینو تر منځ بی باوری ورځ په ورځ زیاتیده او ددغه بی باوری له امله د ۱۴۱۹ هـ ق کال د ذوالقعده په ۱۳ مه د دوشنبی په ورځ په داسی حال کی چی په شمالي کی د زاړه سرک په استقامت د شورای نظار د پوځی شورا په وخت کی مخالف قوماندان راز محمد د احمد شاه مسعود څلور تکړه قوماندانان او د هغوی ۳۲ تنه وسله وال کسان ووژل او په خپله د ۲۶ تنو وسله والو کسانو سره د اسلامی اردو د ځواکونو سره یو ځای شو ددی په څنګ کی د سمنګانو د ولایت د دره صوف په ولسوالی کی د اسلامی اردو د ځواکونو تصفیوی عملیات سرته ورسیدل او د غور او مرغاب په مربوطاتو کی د مخالفینو ۱۴ تنه قوماندانان چی د مخالفینو د ۴۱ می فرقی قوماندان محمد حسین خادمی هم په کی شامل و د اسلامی اردو د ځواکونو سره یو ځای شول همدارنګه د لغمان د دولت شاه په ولسوالی کی د مخالفینو یو تن مشهور قوماندان ګل زمان هم د اسلامی اردو خواته راواوښته. په داسی حال کی چی له بلی خوا د مخالفینو یو شمیر قوماندانانو په خپله خوښه د د اسلامی امارت د حقانیت په پوهیدلو سره د اسلامی اردو د لیکو سره خپل پیوستون اعلاناوه د اسلامی امارت مخالفینو په سر پل، غور بند او بامیانو کی بیا پوځی تحرکات پیل کړل، خو په الهی نصرت سره اسلامی اردو د مخالفینو تحرکات بیخی شنډ کړل او وروسته د فاریاب په ولایت کی د مخالفینو لس تنه قوماندانان چی مخکی په غرونو کی پټ شوی وو د خپلو وسله والو کسانو، وسلو مهماتو او آسونو سره د اسلامی اردو ځواکونو ته تسلیم شول او په خنجانو کی د مخالف قوماندان سید میرزا په تسلیمېدلو سره د جګړی لومړی کرښه هم د اسلامی امارت د ځواکونو په لاس کی شوه او په دغه ډول د مخالفینو په دفاعی حالت باندی یو سخت ګوزار وشو. په بامیانو کی هغه وسله وال مخالفین چی په غرونو کی پټ شوی وو په بامیانو کی یی په اسلامی اردو باندی د یوی ناڅاپی حملی له پاره ځان چمتو کاوه او د وخت څارنه یی کوله او په خپله په بامیانو کی استوګن طالبانو داسی

په خپله مخالفین هم اوس په دی باور دی چی په شمالي او نورو ځایونو کی نور د اسلامی اردو د مجاهدینو په وړاندی د یو موثر قوت په توګه مقاومت نه شی کولای نو ځکه اوس مخالفین وخت ناوخته کوښښ کوی چی په ختیځو ولایتونو، د تخار، سرپل سمنګان، او ځینو نورو سیمو کی جګړی رامنځته کړی او په دغه ډول د افغانستان د مسالی په حل کی ځان د یو پوځی اړخ په توګه وښیی او د همدی مقصد له پاره خپلو سیاسی فعالیتونو ته هم د شوراګانو، کابینو او په خپل سر حکومتونو جوړولو په نوم دوام ورکوی تر څو په دغه وسیله د سیاسی فعالیتونو تر پردی لاندی خپلی پوځی ماتی پټی کړی

فکر کاوه چی مخالفینو جنګی قدرت د لاسه ورکړی دی نو ځکه یی د مخالفینو د ناڅاپی حملی له پاره چمتو والی ته د زړه نو د پوره چمتو والی وروسته د ۱۴۲۰ هـ ق کال د محرم الحرام په څلورمه د شپی له خوا ته د وحدت د ډلی وسله والو کسانو په بامیانو کی ناڅاپی حمله وکړه او د محرم الحرام په پنځمه له غرمی وروسته یی د بامیانو مرکز ونیوه. د بلی خوا نه ددی له پاره چی په بامیانو باندی د اسلامی اردو د بیا حملی مخه ونیول شی نو مخالفینو په شمالي کی د زاړه سرک له استقامت نه د محرم الحرام په ۱۶ مه د شپی په وروستیو کی د اسلامی اردو په سنګرونو باندی برید وکړ او له دواړو خواو نه د توپچی درنه جګړه وشوه مخالفینو د تخار د بنګی په سیمه هم حمله وکړه، خو حمله یی په شا ونیول شوه او د مخالفینو یو شمیر قوماندانان ووژل شول. په دغه وخت کی د اندراب له ولسوالی نه هم مخالفینو د اسلامی اردو په سنګرونو باندی حمله وکړه خو حمله یی له ناکامی سره مخامخ شوه د بلی خوانه د اسلامی اردو اتلو ځواکونو د پوره چمتو والی وروسته د هوایی ځواکونو په مرسته له دوه ورځی سختی جګړی وروسته د محرم الحرام په ۲۳ د یکشنبی په ورځ د بامیانو مرکز بیرته له مخالفینو نه ونیوه او په دغه ډول په بامیانو باندی بیا د اسلامی اردو کنترول ټینګ شو او د یکاولنګ د ولسوالی له نیولو وروسته هزارګان غرونو ته وتښتیدل د اسلامی اردو د بریاوو په بهیر کی د هیواد، د ننه او بهر مخالفین سخت په ویره کی شول او په ایران کی مخالفین د ایران په پوځی او مالی مرسته دېته چمتو کیدل چی د افغانستان په لویدیځ سرحد کی هرات او فراه ته څېرمه ځینی پوځی تحرکات وکړی او د ۱۴۲۰ هـ ق کال د صفر المظفر په ۳ مه مخالفینو د ایران له خاوری د طالبانو په سرحدی پوستو باندی حمله وکړه خو د مخالفینو دغه حمله یی ځوابه پاتی نه شوه د بلی خوا نه ایران کوښښ کاوه چی په هرات کی شرارت پیل کړی او یوه بلوا جوړه کړی نو ددغه مقصد له پاره یی د هرات د جبرائیلو د کلی اوسیدونکو ته وسلی ولیږدولی، خو په هرات کی نظامی مسوولین د ایران په دغه دسیسه ډېر ژر پوه شول او د ۱۴۲۰ هـ ق کال د صفر المظفر په پنځمه یی د جبرائیلو له کلی ډېری وسلی لاس ته راوړی او د نورو د عبرت له پاره یی څو تنه جنایتکاران د هرات په ښار کی په ستنو پوری وځړول. مخالفینو تل دا هڅه کوله چی په خپلو پوځی تحرکاتو سره د نړیوالو پام له هغه واقعیتونو څخه بلی خوانه کړی کوم چی د اسلامی اردو د سربندنو په نتیجه کی منځته راغلی دی او د همدغه ناکامه هڅو په جریان کی یی کله له یوی مخی په بیلا بیلو ځایونو کی د جګړی دوام ته لمنه وهله له بلی خوایی د خپلو پوځی تحرکاتو په جریان کی کله ناکله د کابل ښار او هوایی ډګر له شمالي څخه هم د لونانو ګذارونو ویشتلو لاندی نیوه. د اسلامی اردو ځواکونو د خپل پاکلی پروګرام له مخی د ۱۴۲۰ هـ ق کال د ربیع الاخر په ۱۵ مه د تجراب په ولسوالی کی د مخالفینو په سنګرونو خپله حمله پیل کړه او د تجراب ولسوالی یی ونیوله. جګړه د باګرام د هوایی ډګر په لور مخ په وړاندی روانه وه او مخالفینو شپه په شپه د تیښتی لاره خپلوله. په تجراب کی مخالف قوماندان عبدالهادی د خپلو ۶۰۰ تنو وسله والو کسانو، ټانکونو، درنو وسلو او نورو مهماتو سره د اسلامی اردو سره یو ځای شو او هم مخالف قوماندان حبیب افغان د خپلو ۳۰۰ تنو وسله والو سره اسلامی اردو ته راواوښته، په دغه وخت کی په شمالي کی سخته جګړه روانه وه او یو په بل پسی سیمی فتحه کیدلی او مخالفینو کوښښ کاوه چی د پنجشیر تنګی ته ځان ورسوی. د ۱۴۲۰ هـ ق کال د ربیع الاخر په ۲۰ مه د دوشنبی په ورځ د زمکنیو او هوایی قواوو په ګډه همکاری په شمالي کی د کاپیسا او پروان ولایتونو مرکزونه یعنی محمود راقی او چاریکار د اسلامی اردو ځواکونو فتحه کړل او د بل متیک په فتحه کولو سره د اسلامی اردو د مجاهدینو ایبکی د غوربند له مجاهدینو سره ټینګی شوی قوماندان احمد شاه مسعود خپلی ټولی قواوی په ډېره چټکی سره پنجشیر ته ننوېستی او د پنجشیر خوله یی په ځان پسی ونیوله. د ربیع الاخر ۲۱ مه د اسلامی اردو مجاهدینو په کندز کی د شیر **خان بندر او د امام صاحب ولسوالی ونیول او د مخالفینو نه ۷ چاینه ټانکونه او زیاتی درنی وسلی پاتی شوی. د شمالي سیمو د فتوحاتو په لړ کی د ربیع الاخر په ۲۱ مه د اسلامی اردو مجاهدینو د جبل السراج او ګلبهار چاروته هم ونیول او په** دغه ډول د اسلامی اردو د مجاهدینو کنترول له پنجشیر نه پرته د کاپیسا او پروان په ټولو سیمو ټینګ شو.

خو دا چی مخالفینو له کورونو نه د سنګر په توګه کار اخیسته او د ملکی خلکو تلفات زیاتیده نو د اسلامی اردو مشرتابه د جګړی له دوام نه د اردو د ځواکونو په شاتګ ته ترجیح ورکړه او په شمالي کی یی بیرته خپلو لومړنیو مورچلونو ته د ربیع الاول په ۲۲ مه د پنجشنبی د ورځی په ۱۲ بجو راستانه شول او بیا یی د یو منظم پلان له مخی د ربیع الاول په ۲۹ مه په شمالي کی د قره باغ او کلکانو ولسوالی ونیولی او خپلو تصفیوی عملیاتو ته یی دوام ورکړ په شمالي کی د اسلامی اردو د مجاهدینو چټک پرمختګ او بیرته شاتګ یوه ګټه وکړه هغه دا چی د مخالفینو جنګی ماشین بیا هم دومره سخت درز وخوړه چی د پخوا په شان به بیا هیڅ وخت فعاله نه شی په خپله مخالفین هم اوس په دی باور دی چی په شمالي او نورو ځایونو کی نور د اسلامی اردو د مجاهدینو په وړاندی د یو موثر قوت په توګه مقاومت نه شی کولای نو ځکه اوس مخالفین وخت ناوخته کوښښ کوی چی په ختیځو ولایتونو، د تخار، سرپل سمنګان، او ځینو نورو سیمو کی جګړی رامنځته کړی او په دغه ډول د افغانستان د مسالی په حل کی ځان د یو پوځی اړخ په توګه وښیی او د همدی مقصد له پاره خپلو سیاسی فعالیتونو ته هم د شوراګانو، کابینو او په خپل سر حکومتونو جوړولو په نوم دوام ورکوی تر څو په دغه وسیله د سیاسی فعالیتونو تر پردی لاندی خپلی پوځی ماتی پټی کړی. خو د اسلامی اردو د مجاهدینو څخه او حیثیت د تیر یو کال په بهیر کی داسی نتیجه ګیری کولای شو چی د اسلامی اردو په وړاندی د مخالفینو پوځی قدرت په ملا کی مات شوی دی او ددی توان ورسره نه شته دی چی نور د اسلامی اردو د مجاهدینو په وړاندی تیغ په تیغه ودریږی او بله دا چی مخالفین د خلکو او د خلکو د کورونو څخه د اسلامی اردو په وړاندی د سپر په توګه کار اخلی تر ګڼه چیر د اسلامی اردو مجاهدین د ملکی خلکو سر او مال او د هغوی د کورونو خوندیتوب ساتی نو دا ولی شوای چی د مخالفینو تګړ په ډېر ژر د هیواد له پاتی سیمو څخه هم ټول کړی خو بیا هم د افغانستان د اسلامی امارت اسلامی اردو د هغه **مکلفیت په وړاندی چی د اسلامی امارت او د خپلو هیوادوالو په وړاندی یی لری په ډېره هوښیاری سره خپلو تصفیوی عملیاتو ته دوام ورکړی او انشاء الله چی هغه ورځ لیری نه ده چی د افغانستان د اسلامی امارت سپین بیرغونه به په ټول افغانستان کی ورپول شی.**

د افغانستان په اړوند د سیاسي، پوځي اقتصادي او فرهنګي پېښو کرونولوژي

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر له نهمی او د ۱۳۷۷ هـ ش کال د میزان د میاشتی له اوومی نه
تر ۱٤۲۰ هـ ق کال د جمادی الاخر تر ۱۸ می او د ۱۳۷۸ هـ ش کال د میزان تر شپږمی نیټی پوری

د ۱٤۱۹ هـ ق د جمادی الاخر له نهمی او د ۱۳۷۷ هـ ش کال د میزان د میاشتی له اوومی نه تر ۱٤۲۰ هـ ق کال د جمادی الاخر تر ۱۸ می او د ۱۳۷۸ هـ ش کال د میزان تر شپږمی نیټی پوری د افغانستان په اړوند د سیاسی، پوځی اقتصادی او فرهنګی پیښو کرونولوژی

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په نهمه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د میزان په ۷ د بامیانو د ورث په ولسوالی کی خلکو په خپله د اسلامی امارت سپین بیرغ په جګ کړل دی او په دغه ډول ټول بامیان د اسلامی اردو تر کنترول لاندی راغی.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په نهمه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د میزان په ۷ د بامیانو د یکاولنګ په ولسوالی کی پوولس تنه مخالف قومندانان له اسلامی اردو سره یو ځای شول.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په نهمه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د میزان په ۷ د شپی په لسو بجو یوه ترانسپورتی (ان-۳۲) ډوله الوتکه چی د تاجکستان د کولاب له هوایی ډګر څخه یی د بګرام هوایی ډګر ته د مسعود ملیشو ته وسلی او مهمات لیږدول د افغانستان د اسلامی امارت د اسلامی او انسانی هدفونو په پوهیدلو سره د ګروال خان محمد په پیلوټی د خپلی نوری عملی سره د کابل په هوایی ډګر کی راښکته شوه.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په لسمه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د میزان په ۸ د عالیقدر امیر المومنین له لارښوونی سره سم یو لوړ رتبه هیئت د ملا نور الدین ترابی په مشری د بلخ په ولایت کی د خلکو عرضونه او شکایتونه واوریدل.

د ۱٤۱۹ هـ ق کال د جمادی الاخر په لسمه ۱۳۷۷ هـ ش کال د میزان په ۸ له اتو کلونو څخه وروسته د بلخ او کابل تر منځ مخابروی او تیلفونی سیستم بیا فعاله شو

